خپلواکی استقلال

www.esteqlaal.net

داکتر زمان ستانیزی

۲۱ جنوری، ۲۰۲۵

# د ښځې کرامت د روښانیه نهضت په رڼا کې

د مشترک تقویم د شپاړسمې پیړۍ په نیمايي کې د نړۍ یو بیساری مترقی نهضت د نورانیت او روښنايي پر بنا د تصوف د لوی پیر بایزید روښان (۱۵۲۵-۱۵۸۱) له خوا مطرح شو. پیر روښان د ژورو فلسفي اندېښنو، او یوې مؤثرې عرفاني پوهې غښتلی متفکر و چې بصیرت او درایت یې د زماني او منطقي له افق نه آخوا ځلېدلی و.

د اولسونو مشکلات له تولنیز بدلون سره جوخت په مداومه توګه نوی بڼه غوره کوی چې د نویو ځوابونو مستلزم ګرځی. بایزید روښان روښانیه نهضت د خپلې زماني له مشکلاتو سره د مبارزې په مقصد پیل کړ. پیر روښان په دې عقیده و چې ښځې باید (د نارینه په توګه) د علم په جامه ملبسې شي او د حقوقو مساوات یې تضمین شي. همدغه راز دیني او سیاسي زعامت باید د لیاقت او استعداد پر اساس و ټاکل شي، نه د وراثت له مخې.

د پیښتنو روښانیه نهضت د اروپا له روښانیه نهضت یا The Age of Enlightenment نه قدامت درلود ځکه هغه وخت د اروپايي روښانیه نهضت لوی متفکرین لکهDescartes, Locke, او Newton لا ژېږېدلي نه و. خو د اسلامي نړۍ سیاسي واکمنانو د پیر روښان په شان د مترقي نهضتونو مخ نیوی کاوه. له روښانیه نهضت سره د مغلي دولت له خوا ډېره جفا وشوه او اکبر پادشا د خپلو زهرجنو تبلیغاتو له مخې پیر روښان ته د «پیر تاریک» نوم ورکړ او دده پر ضد یې پوځیان وګمارل. خود د مسلمانانو ددغه راز کړو وړو بر عکس اروپایان د خپلې تولنې نیمګړتیاو ته متوجه شول او د ښځو تعلیم او د حقوقو د مساواتو اعادې ته یې پاملرنه وکړه. په نتیجه کې څو پیړۍ وروسته اروپایان په آسمانونو کې ګرځي، خو مسلمانانو ته څوک پر ځمکه هم ځای نه ورکوي.

د تأسف ځای دادی چې مسلمانان د ځمکې او آسمان له دغه اوسني تفاوت او توپیر نه غلط استنتاج کوي او فکر کوي چې ګنې د ښځو نهضت د اروپایانو دود او دستور دی او تقلید یې د مسلمانانو

لپاره کفر ګڼي. حال دا چې له خپل تاریخ او تمدن نه داسې ناخبره دي چې هغه نهضت چې محمد (ص) او بایزید(ر) یې بنسټ ایښودلی و ورته پردی ښکاري.

پیر روښان له هغه محمدي اجتماعي رسالت نه الهام اخیستی و چې حضرت رسول اکرم (ص) ته له وحیاني رسالت نه دمخه ورسپارل شوی و او په درې اصولو ولاړ و: د ښځې د انساني کرامت اعاده کېدل، د انسان طبیعي آزادۍ ته احترام ساتل، او له خرافاتو سره مبارزه کول. تاریخ دغه مبارزې د ماشومو نجونو د ژوندی ښخولو د مخنیوي، د حبشي مریانو په آزادولو، او له قومیتي بت پرستۍ سره د مبارزې په واقعیتونو کې ثبت کړې دي.

خو ددی زماني مسلمانان د قران لمړنیو نازل شویو آیاتو ته چې په کې خدای پیژندنه کې د علم د ارزښت ستاینه شوی اعتنا نکوی: «الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ. عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ.» له دې غافل چې د محمدي رسالت اصلي هدف د علم له لارې خدای ته رسېدل دی څکه پرته له علمه د هغه وحیاني رسالت ممکن نه و:«كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولاً مِّنكُمْ يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ تَكُونُواْ تَعْلَمُونَ.» ستاسو له مینځه مو تاسو ته آستازی در واستوی څو چې زمونږ آیات درته تلاوت کړي، او زړونه مو روښانه کړي، او تاسو په کتاب او حکمت داسې وپوهوی چې نه پرې پوهېدی.

نننې مسلمانان په تېره بیا پښتانه د قران د صریح امر خلاف، ښځې له علم، مدني حقوقو، او د عصري ژوند له مقتضیاتو نه بې برخې ساتی او دغه کار ته بیا په پوره بیشرمۍ د اسلام جامې وراغوندی. دغه ډله انسانان خپل دیانت د ښځو په محرومیتونو کې تعریفوي څو نارینه ورباندې باداري وچلوي. خو د عصر ایجابات حکم کوي چې له متمدنو انسانانو سره نه ښایي چې د نارینه واکمنی او مردسالارۍ په لومو کې ایسار پاته شي څکه:

۱- خدای او طبیعت ښځه او نارینه یو د بل مُکمِل پیداکړی او د قران په استناد یې دواړه د کرامت وړ ګرځولی.

۲- د ښځې انساني کرامت ته د درناوي په خاطر په کورنۍ او ټولنه کې د ښځې د مدني، سیاسي، او بشري حقوقو د تأمین له لارې باید دغه اعتقاد ته د عمل جامې ور واغوستل شي.

تاریخ شاهد دی هرې هغې ټولنې چې د ښځې کرامت ته سپک کتلی، هرومرو له تباهۍ او بربادۍ سره مخامخ شوی لکه د عربو د جاهلیت دوره، د اروپایانو د ظلمت دوره یا The Dark Ages، او د اوسنۍ په نامه اسلامي نړۍ کې د معاصر جاهلیت دوره. دا ثابتوي چې د ښځې د کرامت درناوی او د هغې د حقوقو ساتل د ټولنې له پرمختګ سره مستقم ارتباط لری: «هغه لاس چې زانګو زنګوي، جهان زنګوي.»

هغه مشکلات چې پیر روښان په ټولنه کې پنځه سوه کاله دمخه درک کړی و د اوسني افغانستان له مشکلاتو نه هومره توپیر نلري. یعنی دا چې زمونږ خلک له پنځه سوه کاله راهیسی د یو پیژندل شوی مشکل د حل په لار کې لاس تر زنې ناسته دی او په بی تفاوتی او بی باکۍ کې د پرمختګ توقع هم لری. مونږ د «ملي» افتخاراتو په توګه په روښانیه نهضت ویاړو، خو په عمل کې مو، هسی چی ښایی، نه د هغه نهضت لارښوونو ته په درنده کتی، نه مو عبرت ورنه اخیستی، او نه مو د تاریخ د پاڼو د تورو تورو له رڼا نه د علم او زده کړې ډیوې روښانه کړی.

*ډاکتر زمان ستانیزی د پَسِفیکا د لوړو مطالعاتو په پوهنتون کې د اسلامي زده کړو او تصوف او عرفان استاد دی.

salamwatanam@gmail.com